***Journal of Religion & Society* (JR&S)**
Available Online:
https://islamicreligious.com/index.php/Journal/index
Print ISSN: 3006-1296Online ISSN: 3006-130X
Platform & Workflow by: Open Journal Systems

An Analysis and Interpretation of Some Poetic Compounds in the Poetry of Hafiz Alpuri

د حافظ الپوری په شاعری کښې د ځنې ترکیبونو څېړنه او شننه

Dr. Farkhanda
Lecturer Pakistani languages Department
NUML Islamabad

Abstract
*Hafiz Alpuri is a prominent poet of the third period of Pashto literature whose poetic works demonstrate considerable experimentation in both semantic construction and artistic expression. Through these experiments, he enriches his poetry with semantic depth, linguistic innovation, and aesthetic refinement. Among the distinctive features of his poetic craftsmanship is *Tarkeeb Sazi* (compound formation), a significant linguistic and stylistic technique that contributes to the structural, semantic, and artistic richness of his poetic discourse. The present study investigates the nature and function of compound formation in Hafiz Alpuri's poetry, with particular emphasis on its semantic implications and aesthetic significance. It examines how the poet employs various compositional strategies to enhance the expressive potential of language, create distinctive poetic effects, and enrich the thematic and artistic dimensions of his verse. By foregrounding this relatively specific yet significant aspect of his poetic technique, the study seeks to elucidate Hafiz Alpuri's linguistic ingenuity and stylistic distinctiveness, thereby contributing to a more comprehensive understanding of his poetic artistry and his contribution to the development of Pashto literature.*

Keywords: *Hafiz Alpuri, Pashto Literature, Third Period of Pashto Literature, Tarkeeb Sazi, Compound Formation, Semantic Analysis, Stylistic Analysis, Linguistic Innovation, Poetic Aesthetics, Poetic Discourse.*

حافظ الپوری د پښتو د زړې دورې یو داسې نامتو شاعر دے چې د خپلې منفردې شاعرۍ په حواله د پښتو شعرو ادب په میدان کښې د ډېرې نامې او جامې خاوند دے ــ خو ددې باوجود دحافظ الپوری د نوم، تخلص، زمانې او د استوګن ځاے په حقله پښتانهٔ څېړنکار یوه خوله نه دي ــ او زیاتره د یو بل نه جدا او مختلفې رائې لري ــ
عبدالحلیم اثر افغاني په خپل کتاب " **روحاني ټرون او روحاني رابطه** " کښې د حافظ الپوري نوم عبدالمقتدر شودلے دے او د هغه د زېږېدنې کال ۱۱۲۸ هجري او د وفات کال ۱۲۱۵ هجري یادوي.

"حضرت مولانا شیخ المشائخ قدوته السالیکین اخوندحافظ عبدالمقتدر علیه الرحمته د ریاست سوات د اباسیندکوهستان غوربند نوموے علاقے د الپوری نومے کلي اوسیدونکے وو ــ او په دغه وجه د "حافظ الپوری" په نوم زیات مشهور دے ــ په سلسله قادریه او نقشبندیه کښې د بشونړی د حافظ اخوند محمد صدیق علیه الرحمته خلیفه وو ــ او په سلسله عالیه چشتیه کښې ئې د حضرت اخوند محمد صدیق پهلواړي علیه الرحمته نه خلافت مونډلے وو[1]"

د حافظ الپوري د ځاے او تاتوبي په اړه اثر افغاني د هغه د شاعرۍ ځينې بېلګې هم وړاندې کوي. د هغه په اند د حافظ په کلام کښې د «حافظ» تخلص دومره ډېر راغلے دے چې ځينو خلکو دا ګومان کړے دے چې ګنې نومورے صوفي به سترګو معذوره وو.

لکه څنګه چې وړاندې اشاره وشوه، د حافظ الپوري د شخصي ژوند په اړه په بېلابېلو سرچينو کښې يو شمېر اختلافونه شته. څېړونکي هدايت الله نعيم د دې اختلافونو د روښانولو لپاره ډېر زيار ايستلے دے او په خپله **ديواني مقدمه** کښې ئې د حافظ الپوري د ژوند په اړه ګڼې پوښتنې څېړلې دي. په دې ليکنه کښې هم د نومورې د څېړنې څخه استفاده شوې ده.

د حافظ الپوري د نوم په اړه هدايت الله نعيم داسې ليکي:

"تر اوسه پورې چې د حافظ الپوري کوم نومونه مخې ته راغلي دي ــ هغه دا دي:

(۱)حافظ معظم

په دې لړ کښې قاضي عبدالسلام، چې د "لغمان" په نوم د حافظ صاحب د ديوان لومړنے شارح او خپرونکے دے، داسې ليکي:

"د حافظ صاحب اصلي نوم غالبا"

"حافظ معظم معلومېږي"

د حافظ الپوري د نوم په اړه حبيبي صېب مرحوم هم دا مصرعه راوړې ده:

سس سوال د معظم که په درګاه د رب قبلېږي

د چنداخوري ابوحسين په تشريح او ترجمه کښې د حافظ صاحب د ديوان (م: ۱۰۰) دغه مصرعه داسې راغلې ده، چې په لغمان کښې هم همدغه ډول ده:

سس سوال که د حافظ چرې په در د يار قبلېږي

همدغه مصرعه د ديوان حافظ په نمبر (۱۶۷۶۷) او مخ (۸۰) کښې داسې راغلې ده:

سس سوال که د حافظ د پاک الله په در قبلېږي[2]

هدايت الله نعيم په دې اړه له بېلابېلو سرچينو څخه کار اخستے دے او د هغو معلوماتو ئې تنقيدي جاج هم اخستے دے. نومورے د اثر افغاني د دعوې په اړه وايي چې هغه د عبدالمقتدر نوم د ثابتولو دپاره کومه ځانګړې سرچينه نه ده وړاندې کړې. له دې سره سره ئې د څېړونکي رحيم شاه رحيم خبره هم راوړې ده چې د شجرو له مخې د حافظ اصلي نوم عبدالصمد ښودلې شوے دے. د حافظ د نوم په اړه د هدايت الله نعيم د بحث ملاتړ د **تواريخ حافظ رحمت خاني** له معلوماتو څخه هم کېږي.

ژباړه:

> ان کا نام عبد الصمد ہے۔ اور وہ نسلاً رزڑ مندڑ یوسفزئی سے متعلق ہیں۔ وہ ایک بڑے عالم اور اچھے شاعر تھے ان اپنا ایک کتب خانہ تھا اور وہ کتابیں اب بھی موجود ہیں مگر افسوس کہ ان کے ورثا کسی کو دینا نہیں چاہتے۔ جس وقت مندڑ لوگ بالائی حصہ میں رہائش پذیر تھے تو یہ بھی ان کے ساتھ وہاں رہے اور وہیں الپوری کے مقام پر ۱۰۱۱ھ میں وفات پاکر مدفون ہوئے۔ ان کے متعلق یہ بہت ہی مختصر حالات بمقام چکیسر جناب صدف صاحب جو چکیسر کا قاضی ہیں، نے بتائے صدف صاحب مذکور کا نسلی تعلق یوسفزئی کی ذیلی شاخ مرلی خیل سے ہے۔ انہوں نے مجھے چند قلمی کتابیں بھی عنایت کیں۔

ترجمه " د هغۀ نوم عبدالصمد دے.هغه په نسلي لحاظ د رزړ مندړ يوسفزيو سره ترون لري.هغه لوے عالم او ښه شاعر وۀ.خپل يو کتابتون ئي لرلو او هغه کتابونه ئي اوس هم موجود دے، خو له بده مرغه چې د هغۀ وارثان ئي چا ته ورکول نه غواړي. په کوم وخت کښې چې مندڼ په بره علاقو کښې

اوسېدل، نو هغه هم د دوی سره هلته اوسېدۀ .په ۱۰۱۱هـ کښې د الپوري په مقام وفات شو او هلته خاورو ته وسپارل شو.
د چکيسر اوسېدونکي ښاغلي صدف صېب، چې د چکيسر قاضي دے، په هم دغه ځاے کښې د هغۀ په حقله دا ډېر لنډ معلومات راکړل .د صدف صاحب نسلي ترڅو د يوسفزيو له فرعي ځانګې مرلي خېلو سره دے .هغه ماته څو قلمي کتابونه هم راکړل."[3]
دحافظ الپوری شمار د پښتو په نامتو شاعرانو کښې کېږي د هغه په شاعری کښې د صوفيانه افکارو تر څنګ د شاعری بېلابېل هنري صنعتونه او ادبي ښکلاګاني هم په پراخه سطحه ليدلې کېږي. د حافظ الپوري په ديوان کښې د ترکيبونو استعمال هم د هغه د شاعری د ژبنې او هنري ځانګړنو يوه مهمه برخه جوړوي. ترکيب سازي د هر چا د وس کار نه دے په دې چې ترکيب د ژبې يوه مهمه ادبي او ژبنې اصطلاح ده .په لغت کښې ترکيب د بېلابېلو څيزونو يو ځاے کولو ته وائي، او په اصطلاح کښې د دوو يا دوو نه د زياتې کلمې چې رايو ځاے شي او نوي معنې ورکړي نو دې ته ترکيب وئيلې کېږي چې د هغوي تر مېنځه د ژبې او معنې په لحاظ اړيکې لري.
په شاعری کښې ترکيب يوازې د کلمو يو ځاے کول نه دي، بلکې د شاعر د فکر، تخيل، احساس او هنري وړتيا څرګندونه هم کوي.شاعر د خپلو افکارو او احساساتو د څرګندولو دپاره دکلمو داسې جوړښتونه رامېنځته کوي چې د نوؤ معنو، ښکلا، تصوير او عاطفې اثر مخې ته راولي .
ترکېب بندي **په شاعری کښې ډېر اهميت او ارزښت لري ــ دا بيا د شاعر په تخليقي صلاحيتونو او هنري ځانګړنو اړه لري ــ که شاعر دغه اړخونه قوي وي ، نو ددۀ ترکيب بندي به هم د کمال وي ــ د مثال په ډول څومره چې د شاعر تخيل مظبوط وي نو د ترکيبونو جوړښت به ئې هم اعلي وي په دې چې** تخيل د شاعری يو اساسي توکے دے.شاعر د خپل تخيل په مرسته د بېلابېلو څيزونو تر مېنځ داسې اړيکې پيدا کوي چې هغه په امروزه ژوند کښې په ښکاره ډول په نظر نه راځي.شعري ترکيبونه هم ددې تخيل د څرګندولو وسيله ده.شاعر د دوو يا زياتو کلمو په هنري ترڅو سره يو داسې تصور وړاندې کوي چې لوستونکي ته نوې فکري او حسي تجربه ورکوي.
دغه شان د کوم شاعر چې سره چې د ژبې ښکلا او هنري رنګ وي ، هغه د ترکيبونو په راجوړولو کښې دغه خاصه پکارراولي ــ اود ترکيبونو په مرسته د شاعر ژبه د عامو خبرو نه ادبي او هنري بڼه خپلوي. ځکه چې هغه ددې نه خبر وي چې مناسب او اغېزمن ترکيب د شعر ژبې ته خواړه، روانې او زړه راښکونکې وربښې.د کلمو انتخاب او د هغوي تر مېنځ اړيکه د شاعر د ژبنې مهارت څرګندونه کوي.هم دا وجه ده چې د يو ښه شاعر د ژبې په پېژندنه کښې د هغه د ترکيبونو مطالعه مهم ارزښت لري. شاعر د ترکيبونو په وسيله مجرد احساسات او مفاهيم د محسوسو انځورونو په بڼه وړاندې کوي ــ دا ډول ترکيبونه د لوستونکي په ذهن کښې انځورونه جوړوي او شعر ته تصويري قوت وربښي.
د ښه ترکيب يوه ځانګړنه دا ده چې په لږو کلمو کښې پراخه مفهوم وړاندې کوي.شاعر کله کله د يوې اوږدې خبرې پر ځاے يو مناسب ترکيب پکاراولي او د خپل فکر ژورتيا په مختصر توګه څرګندکړي.له دې امله ترکيبونه د شعر په ايجاز، معنوي پراختيا او اغېزې کښې مهم رول لوبوي ــ

شاعري د انسان د داخلي احساساتو او عواطفو هنري اظهار دے.شاعر د مينې، غم، خوشحالی، درد، امید او مایوسی د څرګندولو دپاره داسې ترکیبونه جوړوي چې د هغه د زړه حالت لوستونکي ته ورسوي ــ په دغه اساس ترکیب د شاعر او لوستونکي تر منځ عاطفي اړیکه ټینګوي.
ددې نه علاوه شه شعري ترکیب یوازې ظاهري شکلا نه لري، بلکې د ځان سره ګڼې معنوي او فکري اړخونه هم لري.یو لوستونکے ترې یوه معنې اخلي او بل لوستونکے ترې د خپل فکر او تجربې په بنیاد بله معنې اخلي.دا ځانګړنه شعر ته معنوي پراختیا ورکوي ــ
خو دلته دا خبره د یادونې وړ ضرور ده چې هر شاعر د فکر، ژبې او د تخیل د پکارونې طریقه د بل شاعر نه په فرق وي.د ترکیبونو جوړونه هم د شاعر د انفرادي سبک یوه مهم خاصیت دے ــ ځینې شاعران ساده او روان ترکیبونه خوښوي، ځینې پیچیده، نوي او استعاري ترکیبونه جوړوي هم دا وجه ده چې د شاعر د ترکیبونو څېړنه د هغه د ژبنې ذوق، فکري نړۍ او هنري ځانګړنو په پېژندنه کښې مرسته کوي.
د ترکیب سازۍ یو افادیت دا هم دے چې ژبه د وخت په تېرېدو سره بدلون مومي او د ادب په مرسته نوې معنې او تعبیرونه پیدا کوي.شاعران د خپلو تخلیقي تجربو د لارې داسې ترکیبونه جوړوي چې د ژبې د معنوي زېرمتون د پراخېدو سبب ګرځي.ځینې نوي ترکیبونه وروسته د ادبي ژبې برخه شي او نور لیکوال او شاعران هم ترې ګټه اخلي.له دې امله شعري ترکیبونه د ژبې په تخلیقي پرمختګ کښې هم ونډه لري.
دغه رنګ شعر کښې د کلمو غږیز جوړښت او د هغوي ترتیب هم اهمیت لري. د شاعر له خوا د مناسبو کلمو او ترکیبونو انتخاب د شعر په روانۍ، غږیز تناسب او موسیقیت کښې مرسته کوي.البته هر ترکیب په خپله شعر ته اهنګ نه وربخښي؛ دا اغېز د کلمو په انتخاب، غږونو، وزن او د شعر په عمومي جوړښت پورې اړه لري.
شاغلے عزیزالدین یوسفزئ د ترکیب جوړونې په حقله لیکي ــ
"په شاعرۍ کې د شاعر یو مهم کمال د شاعرانه ترکیبونو جوړول دي، چې د څو کلمو له یو ځای کولو، یوه خپلواکه معنا راوباسي. "[4]
د دې عبارت له مخې د شاعر کمال یوازې په دې کښې نه دے چې شکلي کلمې وکاروي، بلکې په دې کښې هم دے چې له هغوي څخه داسې ترکیب جوړ کړي چې نوې معنې او هنري اثر ولري

دکتور اجمل شکلے د ترکیب تعریف داسې کوي ــ

"ترکیبي کلمې هغه دي، چې له دوو یا څو خپلواکو مورفیمونو جوړې وي" [5]
ــ
ددغه تعریف نه دا خبره جوتېږي چې د ترکیب نه ژبنیز جوړښت راڅاګي ته کېږي ــ او بیا په شاعرۍ کښې د کلمو جوړښت او د هغوي تر مېنځ اړیکه د نویو مفاهیمو او هنري تعبیرونو په رامېنځته کولو کښې برخه اخلي.البته د ژبپوهنې ترکیبي کلمه او شعري ترکیب په هر ځای کښې یو مفهوم نه لري.

د ډاکټر رابعه سرفراز په نظر کښې ترکیب سازي یو منظم فني عمل دے ــ هغه لیکي

"تراکیب سازی شاعری کا ایک باقاعدہ عمل ہے۔ جس کے کئی فائدے ہیں۔ اس میں بہت بڑی بات دو تین لفظوں میں سمٹ جاتی ہے۔ متحارب، متصادم اور دو مختلف طرح کے خیالات ایک ترکیب کے ذریعے ایک جگہ پر اکٹھے ہو جاتے ہیں۔ اس میں اختصار، جامعیت اور بلاغت کے عناصر بھی پائے جاتے ہیں۔ جہاں کہیں بھی ترکیب ہوتی ہے وہاں زورِ بیان مختصر سے لفظوں میں سمٹ جاتا ہے"۔

ترجمه : د ترکیبونو جوړول په شاعرۍ کښې یو باقاعده عمل دے، چې ډېرې فائدې لري. په دې کښې لویه خبره په دوو یا درېو لفظونو کښې رانغښتلې کېږي. مختلف، او یو د بل مخالف او سره ټکر لرونکي خیالات د یو ترکیب په وسیله په یو ځای کښې راټولېږي. په ترکیب کښې د لنډیز، جامعیت او بلاغت ځانګړنې هم موجودې وي. چرته چې ترکیب وي، هلته د بیان زور او اغېز په لږو لفظونو کښې څرګندېږي."[6]

شمس الرحمن فاروقي د لفظونو د ټرون او په تخلیقي ډول د ترکیبونو د استعمال په اړه ژور بحث کړے دے او ترکیبونه ئې د شعر د معنې د پراختیا یوه مهمه وسیله ګڼلې ده.

"شعر میں الفاظ کا محض لغوی جوڑ ترکیب نہیں کہلاتا، بلکہ ترکیب وہ اسلوبیاتی ساخت ہے جہاں الفاظ اپنے انفرادی وجود سے بالاتر ہو کر ایک نئی معنوے اکائی اور نئی جمالیاتی کائنات تخلیق کرتے ہیں۔ اچھی ترکیب وہ ہے جو قاری کے تخیل کو متحرک کرے۔"

ترجمه : د شعر په ژبه کښې یوازې د لفظونو لغوي یو ځای کول ترکیب نه بلل کېږي، بلکې ترکیب هغه فني جوړښت دے چې لفظونه پکښې له خپلې انفرادي مانا څخه پورته شي او یوه نوې مانایي مجموعه او نوې هنري نړۍ رامنځته کړي. نو ترکیب هغه دے چې د لوستونکي تخیل راوپاروي[7].

د ډاکټر فرمان فتح پوري په نزد، په ژبه کښې د ترکیبونو ډېر استعمال د ژبې د عظمت او د شاعر د تخلیقي ځواک څرګندونه کوي.

"شعری زبان میں ترکیب دراصل لفظوں کا ایسا کیمیائی امتزاج ہے جس میں ایک لفظ دوسرے لفظ کے حسن اور معنی کو دوبالا کر دیتا ہے۔ خصوصاً فارسی اور عربی کے لسانی اصولوں کے تحت اردو میں بننے والی تراکیب نے اردو شاعری کے دامن کو وسیع اور پر وقار بنایا ہے۔"

ترجمه : په شاعرانه ژبه کښې ترکیب په حقیقت کښې د لفظونو داسې یو کیمیاوي امتزاج دے چې یو لفظ د بل لفظ شکلا او مانا دوه چنده کوي. په ځانګړي ډول د فارسي او عربي ژبو د اصولو له مخې په اردو کښې جوړو شوو ترکیبونو د اردو شاعرۍ لمن پراخه کړې او هغې ته یې وقار وربخښلے دے[8].

جمیل جالبي د ادب د تاریخ په رڼا کښې د میر، غالب او اقبال د شاعرۍ ترکیبونه ځېرلي دي او د هغوي اهمیت ئې څرګند کړے دے ــ د هغه د لیکنې تر مخه

"ترکیب، کلام میں اختصار پیدا کرنے کا بہترین ذریعہ ہے۔ جو بات ایک طویل جملے میں کہی جانی مقصود ہو، وہ ایک عمدہ ترکیب (مثلاً 'برقِ تبسم' یا 'دیدۂ تر') کے ذریعے ایک لمحے میں قاری کے ذہن پر اثر انداز ہو جاتی ہے اور یہی شعر کا اصل اعجاز ہے۔"

ترجمه : ترکیب په کلام کښې د اختصار پیدا کولو دپاره د ټولو ښه وسیله ده. کومه خبره چې په یوې اوږدې جملې کښې وئلې کېږي، هغه د یو ښه ترکیب، لکه «د موسکا برېښنا» یا «له اوښکو ډکې سترګې»، په وسیله په یوه شېبه کښې د لوستونکي پر ذهن اثر کوي؛ او هم دا د شاعرۍ اصلي هنري کمال دے[9].

حافظ الپوري په خپل کلام کښې ترکیبونه په ډېر هنري مهارت کارولي دي. د هغه په شاعرۍ کښې دا ډول ترکیبونه د شاعرۍ ژبنی شکلا او معنایي پراختیا زیاتوي. دلته ئې د بېلګې په توګه یو څو مهم ډولونه راوړو.

د اسم سره اسم

دا هغه مرکب دے چې دواړه برخې ئې اسمونه وي او د دواړو له یوځای کېدو نه یو نوے لفظ یا مفهوم مېنځ ته راشي؛ لکه **ملا بانګ، شېر ګلاب** او نور.

د حافظ الپوري وائي:

د ښځې ښځې اشنا ښځلتون مې زړۀ غلبځل کړو
مېړتون مې ځیګر خوري تن مې کړیږي[10]

نۀ به اوبۀ د فراق وچې شي زما د سترګو
نۀ به د یار په در دیار اوبۀ خوارۀ راشي[11]

په ورومبي شعر کښې مېړے او تون دوه اسمونه دي ، تون اسم مکان دے ، چې د یو ځاے کېدو نه ئې مېړتون جوړ شوے دے ، او په دوېم شعر کښې د اوبۀ او خوارۀ اسمونو نه نوے ترکیب په وجود کښې راغلے دے ۔

اسم او فعل

دغه شان د مرکب او اسم د یو ځاے کولو نه هم ترکیبات جوړولې شي د مثال په ډول ، لکه **کفن کښ، زړۀ چاؤدے** او نور.

د حافظ الپوری دا شعرونه ولولئ ۔

مېدان کوتاه شو ساعت تنګ د صحت طمع نشته
تریاق به څنګه له عراق تر مارخوړلي راشي [12]

کواکبو مکب پرمخې ارتاؤ کړم
لکه ولویږي راکب د اس د شانه [13]

ډېر عمر طاعت برصیا کړے اوبو یوړو
نفس شیطان رسوا کړو په عصیان جامې ککړې [14]

په دغه اشعارو کښې مارخوړلے ، پرمخے او اوبو وړے د اسم او فعل نه د ترکیب جوړونې زړۀ پورې مثالونه دي ۔

ددې نه علاوه د **اسم او اسم صفت نه هم شاعران ترکیبات ترتیبوي ۔** په دې ډول ترکیب کښې یو اسم د بل یو اسم صفت سره یوځاے کېږي او د دواړو په ګډون یو نوے مرکب رغېږي؛ لکه **ګل مخے، وچ سترګے** ، او نور.

حافظ الپوری دغه رنګ ترکیبات هم پخپل کلام کښې راوړي ، د مثال په ډول دا شعرونه

د هجران ګنده بوئي مې مشام ونیو
د وصال نسیم ارسال که عنبر بویه [15]

خلیفه د قارون نۀ یم چې مال غواړم
حریرپوشه، سیم اغوشه، عنبر بویه [16]

په پورته دواړه شعرونو کښې ئې د عنبر بویه ترکیب د اسم او اسم صفت یوه ښکاره بېلګه ده ۔

ځنې وخت شاعران د اسم صفت او اسم صفت د رایوځاے نه هم ترکیب راجوړوي ۔

په دې قسم ترکیب کښې دواړه ټکي په بنیادي توګه صفتونه وي، خو کله چې دواړه یوځاے شي نو د یو نوي مرکب شکل اختیار کړي ۔ لکه **نئ کین ، دنګ چیت ، تور سپین** او داسې نور.

حافظ الپوری دغه ترکیبونه هم ځای په ځای استعمال کړي دي ــ وائي

قد قامت ئې د شمشاد بوئ د چندنو
شان شوکت د شاپیری خندا حوري که[17]

کېږ روزے ئې کړه د اختر میاشت ده
عام و خاص ئې د دیدن طمعداري که[18]

د صراط په عبور خلاص شي له ثبوره
مومنان جنت له ځي چست و چالاک شي[19]

چې هند وسند ئې ایله ول ایران توران احمد شاه
د سلطنت له باغه لاړ برخوردار پاتې نۀ شو[20]

چې به لښکر د بحر و بر ورته په در ولاړ ؤ
هغه اوس خوار لکه نیستګار په ډېر ارمان پراتۀ دي[21]

چې په بستر به ناز پرور شام وسحر پراتۀ وو
هغه نیازبین اوس بې بالین خوار و حیران پراتۀ دي[22]

په دې شعرونو کښې د **قد قامت ، عام و خاص، چست و چالاک، هند وسند ، بحر وبر ، شام وسحر د اسم د صفتونو نه تراکیب په وجود کښې راغلي دي ــ**

ترلي ترکیبونه

دا هغه مرکبات دي چې د عطف د تورو په ذریعه دوه یا د دوه نه زیات ټکي پکښې د یو بل سره وترلي شي . د ټکو دغه ترون یا خو د »و«په واسطه جوړېږي، لکه **دل و جان ، ناز و ادا ، مال و متاع** ، دغه شان ځنې ټکي بیا د اضافت په وسیله د یو بل نښلولي لیږي ، لکه **اهلِ ذوق، جانِ تمنا، چشم ِچراغ او دغه رنګ نور .**

داسې ترکیبونه د حافظ الپوری په دې اشعارو کښې ملاحظه کړئ ــ

هر یار خوش صفات ؤ په خوئ شهد قند نبات ؤ
یا آب حیات وو په دیدن ئې شادماني شوه [23]

د مومن په مخ رنا په صراط سم ځي
په تورتم به منافق اهل اشراک شي [24]

شائسته زنه ئې منه د جنتونو
په زبېښل ئې عاشق هېر قند وتري که [25]

د نیاز منو منزل زیر زمین ساز شو
څۀ کړم زیست له دې ناسازو اغېرلو[26]

اهل دنيا سپي دي په مرداړي خړاوه کا
ځان مۀ کړوه د سپو په جنګ په شدتونه[27]

غافله دين دې اواره کړو د دنيا غم ژاړي
اب زم زم درځخه ورک شو بالوعا ته لاړي[28]

:

شب قدر ؤ په ورځې کاروان بيامونډ
د مالک په ځېر سودمن به کوم تاجر شي [29]

په پورته ورکړې شوؤ شعرونو کښې **آب حيات ، اهل اشراک، قند و تري ، زير زمين، اهل دنيا، آب زم زم او شب قدر د تړلې ترکيبونو نمونې دي** ـ

تکراري ترکيبونه

لکه څنګه چې ئې د نوم نه هم جوتيږي چې په تکراري ترکيب کښې يو لفظ تکرارولې شي ، مطلب يو لفظ دوه ځله يا څو ځله راوړلې کيږي.ددې تکرار
مقصد د خبرې پخلے ، تاکيد او يا په معني کښې زور پيدا کول وي. په دې لړ کښې
ډاکټر سهيل بخاري ليکي:

> زمونږه سره چې څنګه د يو اواز د دوه واړې وئيلو رواج دے کوم ته چې تشديد وئيلے شي دغه شان يو ټکے هم دوه ځل وائيو ـ لکه څنګ چې وړاندي ذکر شوے دے چې تشديد په آريائي ژبو کښې نه ليدل کيږي فقط په عربي (سامي) او هندوستاني ژبو کښې اوريدل کيږي ـ خو يو ټکے د دوه ځله وئيلو روايت په عربی کښې نشته دے او دا صرف هندوستاني ژبو سره خاص ده ـ او ډير عام هم دے ـ زمونږ په ژبو کښې د ټکي د تکرارولو څو مقصدونه وي ـ[30]

د حافظ الپوري په شاعری کښې د تکراري ترکيبونو ګڼې بېلګې موندلې کيږي. دلته ئې څو نمونې راوړو:

زلفې چې تار تار کړې بوئ خجل شي د عنبرو
مشک د سيالی پريوځي د تاتار د ختن لا[31]

تن اوړۀ اوړۀ که سپين چندن په سنګ سولېږي
ورسي هله د ماه جبينو و جبين ته [32]

ترکومه پورې به پرواز کړې په دا لنډ مېدان کښې
د مرګې شکار شوې ستا په شان هزار هزار ګوشاړې
[33]

دور د دوران دے چې ګردش ئې په شان شان دے
شاه له تخته کوز کا خواهنده د دروېزې [34]

حلال حلال دي له حرامو پرهېز کا مدام
لکه د اوښ غوندې په دواړ جامو شخوند ونۀ کړې
[35]

نۀ بيا فرهاد سرتور غرونه سوري کا
نۀ بيا ورته شيرينه په زار زار شي[36]

چې بيلتون ئې په زړۀ نوے نوے داغ ږدي
سوز ګداز کله کمېږي د داغلو[37]

په دغه شعرونو کښې د تار تار، اوړۀ اوړۀ، ،هزار هزار ، شان شان ، حلال حلال ، هزار هزار او نوے نوے ترکيبونه د تکراري ترکيبونو مثالونه دي ــ

منځتانې مرکب

منځتانې مرکب هغه ډول ترکيب دے چې د يو شان يا يو بل ته د نزدې ټکو تر مېنځ يو ټکے يا غږ راشي او د هغې نه يو نوے مرکب جوړ شي ، د مثال په ډول **ورادړ ، سراسر ، برابر** او داسې نور.

د حافظ الپوري په ديوان کښې دغه شان ترکيبونه موجود دي چې د مثال په توګه تري دا لاندينې رااخستې شي ــ

نفس دې امير روح دې اسير شو فهم وکه څۀ خو
سپينه کټه باز وې رېز مرېز کړې دې کوټه پداړې[38]

شهسوار پسې کۀ سم برابر نۀ ځي
په ويجاړه کښې به پاتې شي راجله[39]

په تختونو مخامخ ناست لا خوبانو
همېشه به وي رښا محوه مغاک شي[40]

په دغه شعرونو کښې د منځتانې ترکيبونو په څېر رېز مرېز ، برابر او د مخامخ تراکيب راغلي دي ــ

د حافظ الپوري په کلام کښې د ترکيبونو يوه پرېوانه پنګه موجود ده ، چې ددغه ټولو ترکيبونو احاطه په يوه تحقيقي مقاله کښې ممکن نه ده ،ځکه نو ما هم په دغه څو نمونو اکتفا وکړه ــ او ددې لنډې څېړنې نه هم دا خبره مخې ته راځي چې د حافظ الپوري د شاعرۍ په ژبنې جوړښت کښې د هغه ترکيبونه يوه مهمه برخه لري. او هغه د مختلفو ترکيبونو په رغولو د خپل کلام لغوي، معنوي او هنري اړخونه غني کړي دي . د اسمونو، صفتونو او فعلونو يو ځاےکول، د تکرار له لارې د معنې راوړل ، د عطف په وسيله د کلمو نښلول او او دغسې نور بلها تراکيب د هغه په شاعرۍ کښې په پراخه توګه ليدلې کېږي. چې دا دهغه د ترکيبونو په جوړولو د لاس بري ثبوت ورکوي ــ

حوالہ جات

[1] اثر افغاني، عبدالحليم، روحاني ټرون، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور ، چاپ کال نه لري ، مخ ۸۰۹

[2] هدايت الله نعيم ، ډاکټر، ديواني مقدمه، ملت ايجوکېشنل پرنټرز، لاهور، کال ۲۰۰۰، مخ ۱۹، ۲۰

[3] تواريخ حافظ رحمت خاني، اعراب پرنټرز، نديم ټريډ سنټر، محله جيګي ، پېښور، کال ۲۰۱۷، مخ ۶۱۲

[4] عزيزالدين يوسفزی، »د شيدا شاعرانه ترکيبونه«، تاند، ۲۰ فبروري ۲۰۱۸، د مقالي د ترکيبونو د هنري ارزښت برخه https://taand.net/?p=103808.

[5] دکتور اجمل ښکلے، .د پښتو اشتقاق او ترکيب تاريخ. تاند، ۲۶ اګست ۲۰۱۵.

[6] ڈاکٹر رابعہ سرفراز، اقبال کے شعری اسلوب کا تجزیاتی مطالعہ، مجلس ترقی ادب، لاہور، 2012ء، صفحہ 128

[7] شمس الرحمن فاروقی، شعر شور انگیز (جلد اول)، قومی کونسل برائے فروغ اردو زبان، نئی دہلی، 1990ء، صفحہ 45–44

[8] ڈاکٹر فرمان فتح پوری ، اردو کی شعری اصناف اور اسلوب، وقار پبلیکیشنز، لاہور، 1986ء، صفحہ: 84

[9] ڈاکٹر جمیل جالبی، تاریخ ادبِ اردو (جلد دوم)، مجلس ترقی ادب، لاہور، 1984ء، صفحہ نمبر: 312

[10] حافظ الپوری، ديوان، شعيب سنز، سوات مارکيټ، مينګوره سوات، کال ۲۰۲۰ء مخ ۱۷۴

[11] ــ هم دغه اثر، مخ ۱۶۹

[12] ــ هم دغه اثر، مخ ۱۶۹

[13] ــ هم دغه اثر، مخ ۱۸۵

[14] هم دغه اثر، مخ ۲۲۹

[15] ديوان حافظ الپورئ، پبلشرز افتخار بک سنټر، مينګوره سوات، کال ۲۰۰۶ء، مخ ۵۴

[16] ــ حافظ الپوری، ديوان، شعيب سنز، سوات مارکيټ، مينګوره سوات، کال ۲۰۲۰ء، مخ ۱۰۴

[17] ديوان حافظ الپورئ، پبلشرز افتخار بک سنټر، مينګوره سوات، کال ۲۰۰۶ء، مخ ۸۱

[18] حافظ الپوری، ديوان، شعيب سنز، سوات مارکيټ، مينګوره سوات، کال ۲۰۲۰ء، مخ ۲۵۷

[19] هم دغه اثر، مخ ۲۶۴

[20] هم دغه اثر، مخ ۲۵۲

[21] هم دغه اثر، مخ ۲۵۲

[22] هم دغه اثر، مخ ۲۵۰

[23] هم دغه اثر، مخ ۲۵۷

[24] هم دغه اثر، مخ ۱۲۱

[25] هم دغه اثر، مخ ۲۶۰

[26] هم دغه اثر، مخ ۲۴۲

[27] ــ هم دغه اثر، مخ ۱۸۰

[28]هم دغه اثر، مخ ۲۰۶ _
[29]هم دغه اثر، مخ ۲۰۶ _
[30]سهيل بخاري، ډاکټر، تشريخی لسانيات، جعفر رضا _ اے، ۱۰۳ سيکټر ۱۱بی، نارته کراچی، کال ۱۹۹۸ء، مخ ۱۶۵، ۱۶۴
[31]حافظ الپوری، ديوان، شعيب سنز، سوات مارکيټ، مينگوره سوات، کال ۲۰۲۰ء، مخ ۱۰۱
[32]هم دغه اثر، مخ ۱۰۵
[33]_ هم دغه اثر، مخ ۱۸۱
[34]هم دغه اثر، مخ ۲۱۸
[35]هم دغه اثر، مخ ۲۲۴
[36]هم دغه اثر، مخ ۲۷۲
[37]هم دغه اثر، مخ ۲۶
[38]هم دغه اثر، مخ ۱۸۱
[39]هم دغه اثر، مخ ۲۱۳
[40]هم دغه اثر، مخ ۲۵۸